مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۰۸

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(پنځه څلویښتمه برخه)

### عبدالمجید کلکاني

په ۱۹۳۹ز کال کې د کوهستان په کلکانو کې زېږېدلی دئ. پلار او نیکهٔ ئې غرغره سول او دی شپږ کلن وو چې له خپلې تولې کورنی سره کندهار ته تبعید سو. تر نهم ټولګي پورې ئې د امانيې په لیسې کې زده کړې وکړې. په ۱۹۵۳ز کال کې ئې د یوهٔ شاعر او لیکوال په توګه شهرت وموند. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د سیاسي فعالیتونو له کبله مخفي کېدلو ته اړ سو. مجید کلکانی د ۱۹۶۰ز لسیزې په دوهمې نیمايي کې د ډیموکراتیک غورځنګ یو له ټینګو ملاترو څخه وو. دی د شعلهٔ جاوید یو له بنسټ اېښودونکو څخه دئ. په ۱۹۶۸ز کال کې یو ځل بیا مخفي کېدلو ته اړ سو. د داؤود د واکمنی پر مهال د یو میلیون افغانیو جایزه ئې پر سر اېښودل سوې وه چې که چا دولت ته په لاس ورکړ؛ خو دی په دې بریالی سو چې ونهٔ نیول سي. وروسته له دې چې مارکسیستانو واکمنی په لاس کې واخیسته عبدالمجید کلکاني د (سازمان ِ آزادي بخش ِ مردم ِ افغانستان) ساما او د (جبههٔ متحد ملي افغانستان) د سازمانونو بنسټونه کښېښودل. د ۱۹۸۰ز کال د فبرورۍ د میاشتې په ۲۷ نېټې ونیول سو او وروسته اعدام سو.

**حبیب الله کلکاني** : وګورئ : حبیب الله

### مولوي غلام نبي کاموي

په ۱۹۰۵ز کال کې په کامې کې زېږېدلی دئ. په افغانستان کې ئې خصوصي زده کړې کړي او هم ئې د هندوستان د دیوبند په مدرسي کې تحصیل کړی دئ. له ننګرهار څخه د مشرانو په جرګې کې انتصابي سناتور. یو له هغو فعالو علماوو څخه وو چې د راډیو کابل له لارې ئې په اسلامي تبلیغاتو کې ونډه اخیستله. د اسلامي مدرسي مدرس په دې مدرسي کې موسی شفیق هم زده کوونکی وو. په بېلابېلو مقامونو کې قاضي. د ۱۹۶۴ز کال د اساسي قانون د تسوید د مشورې کمېټې غړی. د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده. په ۱۹۷۰ز کال کې وفات سو.

### ډاکټر نیک محمد کامراني

د شیر محمد (کندهاري، پیلوټ) زوی په ۱۹۳۴ز کال کې زېږېدلی دئ. د کابل د حبیبیې په لیسې کې ئې زده کړې کړي دي. خپل لیسانس ئې په ۱۹۵۹ز کال کې له د لاس انجلس د کالیفورنیا له پوهنتون UCLA څخه تر لاسه کړ؛ او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دکتورا ئـي په ۱۹۶۳ز کال کې د سویلي کالیفورنیا له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۱ز کال پورې مرستیال مدرس؛ له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۲ز کال پورې مدرس یا لکچرر. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې نیمه وخته پوهنوال. په ۱۹۷۱ز کال کې مـېلمه پوهنوال. په ۱۹۷۲ز کال کې د سویلي کالیفورنیا په پوهنتون کې د اقتصادي تحقیق مدیر او د اقتصاد پوهاند. ‹ په افغانستان کې د سوله ییزې سیالۍ› [1] او یو شمـېـر نورو آثارو لیکوال.

## ډاکټر محمد نبي کامیار

د روغتیا د وزارت د معالجوي طب د ریاست رئـیس. په ۱۹۸۰ز کال کې د روغتیا د وزارت دوهم مرستیال وزیر او د ۱۹۸۲ز کال د اپریل په میاشت کې د روغتیا وزیر.

## مولانا صالح محـمـد کندهاری

د فیض محمد زوی په ۱۸۹۱ز کال کې په کندهار کې زېږېـدلی دئ. د حبـیـبـیي ښوونځي ته تللی او عربي علوم ئـي په خصوصي ډول سره زده کړي دي. د شپږو کالو لپاره د حـبـیـبـیـي ښوونځي ښوونکی. د معارف په وزارت کې د کابل د ابتدائـي ښوونځیو مرستیال رئـیس. په ۱۹۲۱ز کال کې د کندهار د معارف د ریاست رئـیس. د طلوع افغان محرر. د حبیب الله کلکاني د واکمنۍ پر مهال بې کاره وو. له ۱۹۳۰ تر ۱۹۳۵ز کال پورې د کندهار د معارف د ریاست رئـیس. د ادبي ټولنې د پښـتو د ډیپارټمنټ مشر، او د زیري د خپروني مرستیال محرر. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ولسي جرګې غړی. شاعر او لیکوال.

## محـمـد ابراهیم کندهاری

د مـحـمد علم خان کندهاري زوی په ۱۹۲۲ز کال کې زېږېدلی دئ. تحصیلات ئـي په معاصر او لرغون علم النجوم او علم الفلک [2] کې کړي دي. له ۱۹۷۴راهیسې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت رسمي مأمور. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په کابل کې د افغانستان د مطابعو عمومي رئـیس. په علم النجوم او علم الفک کې د اعلیحضرت محمد ظاهر منجم. په ۱۹۶۵ز کال کې د ورځپاڼو د نشراتو د عالي کمیسیون رئـیس. په ۱۹۸۱ز کال کې له افغانستانه وتښـتـېـد او په ۱۹۸۳ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته راغی. دوه افغان کلیزې یا جنترۍ ئـي خپرې کړې چې شمسي او قمري او میلادي نـېـټې ئـي لرلې چې په واشنګټن ډي سي کې او د افغانستان د اسلامي اتحاد له جنتریو سره معادلې وې.

## حسن ګل وفا کارګر

په پکتیا کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۷۸ز کال کې د کندز والي. د کارګرانو د اتحایې اداري مشر. د مرکزي کمـېـټې علی البدل غړی. یو ‹امینست› خلقی دئ.

[1] - Peaceful Competition in Afghanistan
[2] - astronomy and astrology


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## محمد اکبر کرگر

په ۱۹۵۳ز کال کې زېږېدلی او د کابل د پوهنتون فارغ دئ. په ۱۹۸۰ز کال کې د راډیو افغانستان د نشراتو د ریاست مرستیال رئیس. د ۱۹۸۵ز کال په ډسمبر کې د نشراتو د دولتي کمېټې رئیس. پښتو لیکوال.

## انجنیر محمد اعظم کارگر

د غوایي له پاڅون وروسته د کانونو او صنایعو په وزارت کې د پطرول د انستیتوت رئیس.

## محمد کبیر کارکر

په ۱۹۸۳ز کال کې د خلق د گوند مرکزي کمیټې غړی. د بلخ د گوندي کمیټې منشي.

## واسع کارگر

د مرکزي کمېټې غړی. د کابل ښار د گوندي کمېټې د اقتصادي څانگې مسؤول. د غوایي له پاڅون وروسته د گوندي سازمان د سولې او دوستۍ د ټولنې منشي.

## ډاکټر عبدالواحد کریم

د قاري عبدالخالق زوی په ۱۹۲۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛ قاري عبدالخالق د عبدالکریم علومي (یو وخت د کندهار والي) زوی دئ. د استقلال په لیسې کې ئې زده کړې کړي دي. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي فارغ. خپله دکتورا ئې په نړۍ والو حقوقو کې د پاریس له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده. په ۱۹۵۰ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د پروتوکول د ریاست غړی. په ۱۹۵۲زکال کې په لندن کې او په ۱۹۵۳ز کال کې په پاریس کې مقرر سو. په ۱۹۵۷ز کال کې د پروتوکول د ریاست مرستیال رئیس. په ۱۹۵۸ز کال کې په عراق کې د افغانستان په سفارت کې شارژدافیر. په ۱۹۵۹ز کال کې په پاریس کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. په ۱۹۶۴ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د اقتصاد او کلتوري اړیکو د ریاستونو عمومي رئیس. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د سیاسي اړیکو عمومي رئیس. په نړۍ والو غونډو او کنفرانسونو کې د افغان پلاوي غړی. په ۱۹۷۳ز کال کې په مصر کې د افغانستان د سفارت سفیر. د ۱۹۷۷ز کال د جون په میاشت کې د امریکا په متحده ایالاتو کې د افغانستان د سفارت سفیر. په ۱۹۵۶ز کال کې لیکلی اثر ئې (د پښتونستان مسئله د نړۍ والو حقوقو له نظره)[3] خپور سو؛ په ۱۹۶۰ز کال کې ئې د جنرال عمر له لور ثریا سره واده کړی دئ.

**تورن جنرال محمد کریم** : وگورئ : جنرال محمد کریم علي

## ډاکټر محمد اسمٰعیل کریم

د سوداگر محمد ابراهیم زوی په ۱۹۳۷ز کال کې په مزارشریف کې زېږېدلی دئ. د مزار د باختر په ښوونځي کې ئې زده کړې کړي او په ۱۹۵۷ز کال کې د حبیبیې له لیسې فارغ سوی دئ، په ۱۹۶۱ ز کال کې د کابل پوهنتون د انجنیرۍ په پوهنځي کې شامل سوی دئ؛ په ۱۹۶۶ز کال کې ئې خپله دکتورا د کورونو جوړولو په انجنیرۍ کې د

[3] - The Problem of Pashtunistan from the Viewpoint of International Law, 1956


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

بوداپست له «هنګري تخنيکي انستيتيوت» څخه اخيستي ده. په ۱۹۶۷ز کال کې ئـې د لويديځ برلين له تخنيکي پوهنتون څخه په ښاري پلان جوړونې کې تصديق ليک ترلاسه کړ. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د ټولګټو/ فوايد عامې د وزارت د ودانيو جوړولو د رياست رئـيس. په ۱۹۷۹ز کال کې جرمني او په ۱۹۸۰ز کال کې د امريکا متحده ايالاتو ته لاړ. له ۱۹۸۱ تر ۱۹۸۴ز کال پورې د رياض د نړۍ وال هوايي ډګر په جوړولو کې د «بکتل د ساختماني[4] کمپنۍ له لورې استخدام سو. له محبوبې پويا سره ئـې وادهٔ کړی او درې زامن لري.

## ډاکټر رجب علي کريم

د محـمد کريم زوی. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۳ز کال پورې ئـې د وايو مينګ په پوهنتون کې انجنيري لوستې او ماستري ئـې تر لاسه کړې ده. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۸ز کال پورې ئـې الکتريکل انجنيرينګ د واشنګټن په پوهنتون کې لوستې ده او دکتورا ئـې تر لاسه کړې ده.  په ۱۹۷۱ز کال کې ئـې په لبنان کې د پوهانو په کنفرانس کې ګډون وکړ. د ۱۹۷۰ز لسيزې په اوږدو کې د کابل پوهنتون د انجنيرۍ د پوهنځي رئـيس. اوس د امريکا په متحده ايالاتو کې استوګن دی.

**نور بيا**

## کريم شاه

په ۱۹۱۹ز کال کې زېږېدلی دئ. له ليسې څخه فارغ سوی او...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک]

[4] -Bechtel Co


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ